سرلوځ مرادزی

۲۰۲۱ / ۱۰ / ۲۵

# سياسي کوريشتي

د بيالي پر غاړه
څو ماشومان شګو کې ناست دی
کوريشتي کوي
له شګو او ختو کورونه جوړوي
کور لابشپړشوی نه وي
بيرته يي ورانوي او بل کور له سره جوړوي
کری ورځ کورونه جوړيږي او بيرته ورانيږي
ورځ تيوله په لوبو او کوريشتو تيره شي
خو پای کي هيڅ کور جوړ نه وي
هر ماشوم کور ته ستنيږي
او بله ورځ ورته لوبه تکراريږي
+++
زموږ سياسيون هم ورته لوبه کوي
خو د دوی کوريشتي سياسي دي
جوړ نظام په کودتا ړنګ کړي
بيا د انتقالي حکومت په نوم څه جوړ کړي
وروسته کله موقتي نوم ورکړي
بيا کله ټاکني وکړي
د ټاکنو په پايلو سره وران شي
بيا نظام ړنګ کړي
او لکه د ماشومانو د شګو کوريشتي
ورته لوبه بيا تکرار شي
يادونه:
کوريشتي: د ماشومانو هغه لوبو ته وايي چې ياخپله د لوبېدلو لپاره يو څيز جوړوي او يا په تيارو لوبنانځکو لوبيږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ